محمد اياز نوري


٨//٣/٢٠٠٩

## د اولسمشر اوباما اقرار په حقيقت بانديِ

## پخپله يو شهامت دئ

**د امريکي د متحده ايالاتو ولسمشر بارک حسين اوباما پرون د نيويارک تايمز خپروني سره په خپله مرکه کي زمونږ د هيواد افغانستان د اوسنى وضعي په باب په دي معترف شو، چي مونږ په هغه هيواد کی جګړه وړلی نشو، او د وسله والو جنګياليو يعنی د طالبانو د غورځنګ د (منځ لاري؟) ډلي سره بايد د سولي خبري اتري وشي.** ورپسي په کابل کي د مستعمراتي حکومتي اداري ګوډاګي مشر حامد کرزي هم د ولسمشر اوباما دغه نظر ته سم د لاسه هرکلی وواېه، ليکن په افغانستان کي د ملګرو ملتونو استازي کاى آيدي بيا وويل، چي وسله وال جنګيالي دي لومړی د افغان دولت اساسي قانون ته غاړه کښيږدي او بيا به مذاکرات ورسره پيل کېږي.

د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد د امريکايي ولسمشراوباما د څرګندونو په باب بی بی سی راډيو ته وويل چي، مونږ د مذاکرو لپاره خپل شرايط لرو. امريکائيان تر اوسه پوري سولي او خبرو ته آماده ندي،امريکا بايد خپله اشتباه ومني او خپلي عسکري قواوي دي له افغانستان څخه وباسي او يا دي د خپلو قوتونو د وتلو نيټه وښيي.

دلته اوس مسله دغه ده چي، د ولسمشر اوباما په اټکل (منځ لاري يا نرم او پاسته) طالبان څوک دي، هغوی چيرته دي او په څه اخته دي؟ زه وايم چي د طالبانو جنبش پوره شپږ کاله په افغانستان حکومت وچلاوه او د دوی حکومتي مشر ملا محمد عمر آخوند وه. تر اوسه پورې هيڅ طالب او هيڅ منبع ونه ويل چي د طالبانو عمومی مشر سيوا د ملا محمد عمر څخه هغه بل پلانی دی. بله ډيره مهمه او بنسټيزه پوښتنه دغه ده چي اوس په افغانستان کی د دولت او بهرنيانو پر ضد څوک جګړه کوي؟ د دي جګړه ايز حرکت مشري څوک کوي؟ معلومه خبره ده چي دغه مشرتوب ملا محمد عمر کوي. او دهغه سره بايد مذاکره وشي. يو بل افغان سياسي کارپوه فضل الرحمن اوريا بيا وايی چي، تول طالبان منځ لاري دي او دې اوسني جګړه ايز حالت دوی سختو اعمالو ته رايستلي دي او تر څو چي په هيواد کی يوه سالمه حکومتی اداره جوړه نشي، طالبان په اصلي شکل خبرو ته نه حاضرېږي. زما په تحليل د اوسنی دولتي اداري اراکين لکه حامد کرزی او د جمعيت ډله چي احمد ضياء مسعود يي په حکومت کي استازي توب کوي، هغه او نورو هغه ته ورته سياسی څيرو ته د طالبانو مشر ملا محمد عمر په هيڅ ډول، خبرو ته نه حاضرېږي. زه د اوريا د نظر سره موافق يم که يو نوی ملی حکومتی اداره په افغانستان کی رامنځ ته کيږي او ډيرمحترم او صالح کسان په کی ګډون کوي، بيا طالبانو سره د خبرو امکان هم وسيع کيږي.

زه د افغانستان د يوه فرد په توګه د ولسمشر اوباما د سولي او خبرو دي نظر ته هر کلی وايم. ما پخوا هم ويلی چي د افغانستان مسله بهرنيان په زور نشي حل کولاي. د هر افغان لومړنی انسانی او اسلامی دنده ده چي د خپل وس په اندازه کي د سولي لپاره خپل غږ اوچت کړي. د امريکا او انګريز دولتونه بايد د خپل منفی غرور له آس څخه راکوز شي. که دوی سبا په اصلي او اصولي شکل وسله والو طالبانو سره د خبرو د ميز تر شا کښيني، نو غوره دغه ده چي نن دا کار په جدي او صادقانه ډول تر سره کړي. هم به افغانان د اضافه او بی مفهومه وژلو څخه وژغورل شي او هم به د دوی اتباع. د خبرو لپاره د باور وضعيت بايد رامنځ ته شي، دا داسي چي، د طالبانو مشر بايد د تور لست څخه ايستلی اعلان کړي، يو اړخيز او بيا بايد دوه اړخيزه اوربند د فريقو ترمنځ

تامین او عملا دې مراعات شي. د طالبانو سره په تفاهم کی د یو منځګړي دریم مسلمان هیواد او یا هیوادو اشتراک هم د خبرو د پیل په پړاو کې غوره کار دئ.
که زما دغه لیکنه طالبان لولي، دوی ته زما دغه وړاندیز دی، چی تاسو هم د سیاست سره سراو کار لری، سبا به ملت او خدای ته ځواب ویونکي واست. خپل ملی او خدایی مسؤولیت باید تل په نظر کې ولری. د یوه بی ګناه افغان وژل، انتحار کول، د ښوونځي سوزول، د پل الوزول او سړک خرابول او داسي مسایلو ته ښایی، په اسلامي او وګړنیز پرنسیپ جدی پاملرنه وکړی. که داسی یوه واقعه کیږي، که تاسو دا کار نه وي کړئ، ښایی سمدستي د خپل ویاند له خوا افغان ولس ته خبر ورکړئ. د بیلګي په توګه همدا اوس د ګردیز ـ خوست ولایت په سړک د قیر اچولو کار پیل شوی، لیکن په هغه شرکت او مزدورانو باندې وسله واله حمله کیږي او وژل کیږي او دغه مهمه لار د پخیدو څخه پاتی کیږي. که تاسو طالبان دا کار کوی، زما په نظر تاسو د ولس ګټي په نظر کی نلری، او که تاسو دا عمل نه کوی، باید سم دستی د واقعي نه پس خپل دریځ هیوادولو ته اعلان کړئ. د دې لیکنې په پای کې لوی خدای ته لاس په سوال یم چې، دغه ډیره کرغیرنه جګړه زمونږ په مظلوم ولس باندې پخپل حکمت او مهربانی سره د تل لپاره ودروي. آمین.